# د صدقے فضائل

09-March-2023



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډك بیان

(For Islamic Brothers)

په 9 فرورئ 2023ء د پاکستان په هفته وار اجتماع کښې کيدونکے بيان

# د صدقے فضائل

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنٹر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاك فضيلت

د حضرت عَبدُ الرَّحمان بن عَوف رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے: يوه ورځ د نبيانو سردار، د مدينې تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دولت خانے (يعني کور مبارک) نه بهر تشريف راوړلو او يو باغ طرف ته روان شولو، حضرت عَبدُ الرَّحمان بن عوف رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې اوليدلو نو [هغوئي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورپسې هم] وروستو وروستو روان شو، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باغ ته لاړل، قبلے طرف ته ئې مخ کړلو او سر ئې په سجده کيښودلو، حضرت عَبدُ الرَّحمان بن عوف رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لرې ولاړ وو او کتل ئې، فرمائي: سرکارِ عالي وقار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډيره اوګږده سجده اوکړله، تر دې پورې چې زه اويردم هسې نه چې د سجدې په حالت کښې الله پاک [د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] رُوح مبارک قبض کړے نه وي، دا خيال چې مې اوکړو او وړاندې راغلم، زما د قدمونو آواز ئې چې واوريدلو نو خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سر مبارک د سجدې نه راوچت کړلو، پوښتنه ئې اوکړله: څوک ئې؟ ما عرض اوکړو: حُضور! عَبدُ الرَّحمان. اوئې فرمائيل: څه کار دې دے؟ ما عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو دومره اوګږده سجده اوکړله، چې زه اويريدم هسې نه چې الله پاک په سجده کښې [ستاسو] رُوح مبارک قبض کړے نه وي.

(د عاشقِ زار د محبت نه ډکه خبره ئې چې واوريدله نو د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اوکړدے سجدې کولو حِکمت بيان کړلو او) اوئې فرمائيل: زما خوا ته جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام حاضِر شولو او اوئې وئيل: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! الله پاک فرمائي: اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! څوک چې په تاسو باندې درود لولي، زه به په هغوئي باندې رحمتونه نازلووم، څوک چې په تاسو باندې سلام راليږي، زه به په هغوئي باندې سلامتيا نازلووم. د دې نعمت د شُکر ادا کولو د پاره ما دومره اوکړده سجده اوکړله.[1]

اَللّٰهُ اَکْبَر! اے عاشقانِ رَسُول! غور اوکړئ! ❁ درود به څوک لولي؟ اُمَّتي ❁ رحمت به په چا باندې نازليږي؟ په اُمَّتي باندې ❁ سلام څوک ليږي؟ اُمَّتي ❁ د الله کريم سلامتيا به په چا باندې نازليږي؟ په اُمَّتي باندې ❁ او سجدهٔ شُکر څوک ادا کوي؟ د اُمَّت غمخوار، شفاعت کوونکے، اُمَّت بخښلو والا، جَنَّت ته رسوونکے آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم...!

سُبْحٰنَ الله! اندازه اولګوئ! زمونږ د خوږ آقا، مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت سره څومره مينه ده. الله! الله! اُمَّت ګناه اوکړي، آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شپې په ژړا ژړا تيروي، اُمَّت ته نعمت ميلاؤ شي، آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شُکر سجدې کوي. د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ورور، مولانا حسن رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي:

تم کو تو غلاموں سے ہے کچھ ایسی محبت | ہے ترکِ اَدَب! ورنہ کہیں ہم پہ فدا ہو[2]

وضاحت: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو د خپلو غلامانو سره دومره محبت دے، دا

---

[1] ... مسند اَحْمَد، جلد:1، صفحه:522، حديث:1686۔

[2] ... ذوقِ نعت، صفحه:211 ۔

ادب نه دے کښي چي مونږه اوواېو چي تاسو په خپلو غلامانو باندې عاشق ئې.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو باندې دے.[1]

**اے عاشقانِ رَسُول!** ښه نيت بنده جنّت ته رَسَوي، د بيان اوريدلو نه مخکښې څه ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ❁ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❁ عِلمِ دِين به زده کووم ❁ د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به باآَدبه کښينم ❁ نصيحت به حاصلووم ❁ د اَحمَدِ مجتبٰی، مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاک نوم چې واورم نو درودِ پاک به لولم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ړوند، برګي مرض والا او ګنجي امتحان

په يو اوګړد حديثِ پاک کښې د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بني اسرائيلو د 3 کسانو واقعه بيان کړله، ډېره عبرتناکه او د سبق نه ډکه واقعه ده، زه ئې تاسو ته په خپلو لفظونو کښې خلاصةً بيانووم. **په بني اسرائيلو کښې 3 کَسان وو، په هغوئي کښې يو د برګي (يعني په بدن باندې د سپينو چاپونو نښو والا) مريض وو، دويم ګنجے وو او دريم ړوند وو.** قدرت ته د هغوئي امتحان منظور وو، هم دغسې الله پاک د هغوئي د ازميښت د پاره يوه فرښته د انسان په شکل کښې را اوليږله. **اوس هغه فرښته ورومبے د برګي مرض والا خوا له راغله او پوښتنه ئې اوکړه: ستا د ټولو نه زيات کوم څيز خوښ دے؟**

[1] ... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1 ۔

(دا د انسان څه عجیبه شان طبیعت دے چې انسان هغه څیز ډیر خوښوي، کوم چې د هغه سره نه وي، د برګي د مریض په بدن باندې چونکه سپین چاپونه وو، د هغه سپین رنګ او صفا ستهرا څرمن نه وه، هم دغسې د فرښتې په پوښتنه باندې) د برګي مریض اووئیل: زما ښه رنګ او صفا څرمن ډیره خوښه ده. دا ئې چې واوریدل نو فرښتې د هغه په بدن باندې لاس راښکلو، د فرښتې د لاس لګیدو برکت وو چې د هغه بیماري لرې شوه او د هغه رنګ او څرمن صفا ستهرا شوه. فرښتې د هغه نه بَله پوښتنه اوکړه: ستا کوم یو مال زیات خوښ دے؟ هغه اووئیل: زما اوښان خوښ دي. فرښتې هغه له یوه بلاربه اوښه ورکړله او د برکت دُعا ئې اوکړله او لاړه.

**بیا هغه فرښته د ګنجي خوا ته لاړله،** د هغه نه ئې پوښتنه اوکړه: ستا کوم یو څیز ډیر خوښ دے؟ ګنجي اووئیل: زما ښائسته ویښته ډیر خوښ دي. فرښتي د هغه په سر باندې لاس راښکلو نو د هغه بهترین ویښته را اوټوکیدل. اوس فرښتې بَله پوښتنه اوکړه: ستا کوم یو مال ډیر خوښ دے؟ اوئې وئیل: زما غواګانے خوښې دي. فرښتې هغه له یوه بلاربه غوا ورکړله او د هغه په حق کښې ئې دُعا اوکړله: الله پاک دې ستا د پاره په دې مال کښې برکت عطا کړي.

**اوس فرښته د دریم کَس یعنې د ړوند خوا له راغله،** د هغه نه ئې هم دغه دوه پوښتنې اوکړې: ستا کوم یو څیز ډیر خوښ دے؟ ړوند اووئیل: الله پاک دې ما له بیرته بینائي راکړي د پاره د دې چې زه خلق وینم. فرښتې په هغه لاس راښکل نو د هغه سترګې روغې شوې، فرښتې بیا پوښتنه اوکړه: ستا کوم یو مال ډیر خوښ دے؟ ړوند اووئیل: زما چیلئ [بیزې] خوښې دي. فرښتي هغه له یو بلاربه چیلئ ورکړله او د برکت دُعا ئې اوکړله او لاړه.

الله پاک د هغه دریو واړو په ځاروو کښې ډیر برکت عطا کړلو. د برګي والا اوښې،

د ګنجي غوا او د ړوند چیلۍ بچي راوړل، په لږه موده کښې د هغوئي څاروي دومره زیات شول چې د هغوئي د څاروو نه ډَره ډَکه شوه.

څه موده پس چې کله دا درې واړه ښه مالداره شوي وو، فرښته بیا د هغوئي خوا له راغله، **هغه چې کوم د برګي مریض وو،** فرښته د هغه خوا له په مخکښیني شکل یعنې د برګي په حالت کښې راغله او اوئې وئیل: زه یو غریب یم، زما سره د لارې سامان ختم شوے دے او د بیرته تللو هیڅ شکل په نظر نه راځي. هغه الله پاک کوم چې تا ته ښکلے رنګ، ښه څرمن او مال عطا کړے دے، د هغه واسطه ما له نن یوه اوښه راکړه د پاره د دې چې زه خپل منزل ته اورسم. دا ئې چې واوریدل نو هغه ناشکره انسان اووئیل: زما خرچې ډیرې زیاتې دي، زه تا له هیڅ نشم درکولے. اوس فرښتې اووئیل: ما ته ښکاري چې زه تا پیژنم، آیا تۀ هغه نه ئې د چا چې د برګي بیماري وه، خلقو به ستا نه نفرت کولو، تۀ غریب او محتاجه وې، بیا الله پاک تا ته مال عطا کړو. د یو نا اشنا ګس د خُلے نه چې هغه د تیرو حالاتو بیان واوریدو نو هغه ناشکري اوکړه او اوئې وئیل: داسې بالکل نه ده، ما ته خو ټول مال په وراثت کښې میلاؤ شوے دے. فرښتې چې هغه د ناشکرۍ نه ډَک الفاظ واوریدل نو اوئې وئیل: که چرې تۀ په دې خپله خبره کښې دروغژن ئې نو الله پاک دې تا هم هغه شان کړي لکه څنګه چې مخکښې وې.

**دغه شان بیا فرښته د ګنجي خوا له راغله،** د هغه نه ئې هم دغه شان د څه مال سوال اوکړو، ګنجي هم د برګي والا په شان ناشکري اوکړه او اوئې وئیل: ما ته خو دا مال په وراثت کښې میلاؤ شوے دے، فرښتې هغه ته هم هغه شان اووئیل: که چرې تۀ په خپله خبره کښې دروغژن ئې نو الله پاک دې تا د مخکښې په شان کړي.

**بیا فرښته د ړوند خوا له راغله** او اوئې وئیل: زه یو غریب مسافر یم، زما سره د لارې سامان ختم شوے دے، کوم رَبِّ کریم چې تا ته د سترګو نعمت عطا کړے دے، د هغه

رَبِّ رحمٰن په وسیله ما له یوه چیلئ راکړه د پاره د دې چې زه خپل منزل ته اورسم. د سوالګري په شکل کښې راغلې فرښتې دا خبره چې ئې واوریدله نو هغه شُکر ګزار ته خپل مخکښینے حالت رایاد شو، هغه اووئیل: زه هم مخکښې ړوند ووم، بیا الله پاک کرم اوفرمائیلو، ما له ئې سترګې هم راکړلې، مال او دولت ئې هم راکړو، دا زما چیلئ دي، د دې نه چې تهٔ څومره غواړې هغه همره چیلئ بوتلے شې.

دا ئې چې واوریدل نو فرښتې اووئیل: ستا دې ستا مال مبارک شي، دا ټول مال تهٔ د خپل ځان سره اوساته، ستاسو د دریو واړو امتحان واخستے شو، ستا د پاره د الله پاک رضا ده او ستا د دواړو دوستانو (یعنې د برګي والا او ګنجي) د پاره د الله پاک خفګان دے.

عفو کر اور سدا کے لئے راضی ہو جا
تو ہے معطی وہ ہیں قاسم یہ کرم ہے تیرا

گر کرم کر دے تو جنت میں رہوں گا یاربّ!
تیرے محبوب کے ٹکڑوں پہ پلوں گا یاربّ![1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مال آفت د کوم ځائے نه شروع کیږي؟

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** په حدیثِ پاک کښې بیان شوې د سبق نه ډکه دې واقعه کښې زمونږ د پاره د عبرت حاصلولو د پاره ډیر مدني ګلونه دي، یو اهم مدني ګُل کوم چې په دې واقعه کښې د زده کولو د پاره میلاویږي هغه دا دے چې د مال ډیر آفتونه دي ❀ مال انسان مغروره کوي ❀ د مال په وجه باندې انسان د غفلت ښکار کیږي ❀ د مال په وجه د ډیرو زیاتو ګناهونو دروازه برسیره کیږي، تر دې چې مال بعضې وخت د بدې خاتمے سبب هم جوړیږي، البته! د مال د دې ټولو آفتونو بنیاد یو دے او هغه دا چې ❀ انسان مال خپل ملکیت اوګڼي. چې کله انسان مال خپل ذاتي ملکیت، خپل محنت او د

[1]... وسائلِ بخشش، صفحہ:85۔

خپلې خولې د ګټې نتيجه اوګڼي نو په هغه کښې غرور هم راځي ❀ کله چې انسان مال خپل ملکيت اوګڼي نو په هغه کښې خپل ځان ښه ګڼل هم راځي ❀ هغه نور خلق سپک هم ګڼي ❀ عياش پرست هم شي ❀ فضول خرچه هم شي ❀ د زکوٰة او مال نورو حقونو له د ټيکس نوم هم ورکوي او ❀ د ناشکرئ په ګرداب کښې د پريوتو سره د هدايت د لارې نه هم لرې ووځي.

دې د پاره که چرې الله پاک مونږ له د مال و دولت نعمت راکړي نو مونږله خپل تير حالت هيڅ کله هم نه دي هيرول پکار،په مونږه کښې څوک هم مالداره نه دے پيدا شوے، مونږه چې کله دنيا ته راغلو خالي لاسونه وو، کله چې به د دُنيا نه ځو نو خالي لاسونه به ځو، د دې دوارو حالتونو ترمينځه چې مونږته کوم مال او دولت، مرتبه او مقام ميلاؤ شوے دے، هغه زمونږه ذاتي نه دے، د الله پاک عطا کړے شوے دے، دا هم د الله پاک ملکيت دے، مونږه صرف او صرف د دې مال اَمِين او خليفه يو. الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَاَنْفِقُوْا مِمَّا جَعَلَكُمْ مُّسْتَخْلَفِيْنَ فِيْهِ ؕ<br>(پاره:27 ، سورهٔ حديد:7) | ترجَمه: او خرچ کړئ د هغه مال نه چې مالکان کړے شوئ تاسو په هغې کښې. |

يعنې اے خلقو! دا مال کوم چې ستاسو په قبضه کښې دے، دا ټول د الله پاک دے، هغه تا ته د فائدې اوچتولو د پاره درکړے دے، تهٔ په حقيقي طور باندې د دې مالک نه ئې بلکه د نائِب او وکيل په شان ئې.[1]

## د قارُون يوه باطِني بيماري

قارون ډير زيات مالداره وو، د هغه همره مالداره نن صبا په دُنيا څوك كيدے نشي، د هغه

[1]... تفسير صراط الجنان، پاره:27 ، سورهٔ حديد، زيرِ آيت:7 ، جلد:9 ، صفحه:718 بتغير قليل۔

د خزانے نۀ بلکه د هغه د خزانو صرف کنجیانے به په څو اوښانو باندې کیښودلے شوے، هغه د مال په آفت کښې اخته شو، هغه د الله پاک د نبـي حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام هم ګستاخي اوکړه، د الله پاک د حکمونو نافرماني ئې هم اوکړه، آخر هغه په زمکه کښې دننه کړے شو، الله پاک فرمائي:

فَخَسَفْنَا بِهٖ وَ بِدَارِهِ الْاَرْضَ فَمَا كَانَ لَهٗ مِنْ فِئَةٍ یَّنْصُرُوْنَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَ مَا كَانَ مِنَ الْمُنْتَصِرِیْنَ ﴿۸۱﴾

(پاره:20 ، سورۀ قصص :81)

[مفهوم] ترجَمۀ کنزُ العرفان: نو مونږه هغه او د هغه کور په زمکه کښې دننه کړل نو د هغه سره څه ډله نه وه کومې چې د الله په مقابله کښې د هغه مدد کړے وے او نه هغه پخپله (د ځان) مدد اوکړو.

قارون د مال په محبّت او حِرص او هوس کښې راغے او ډیر غلط کارونه ئې اوکړل خو د هغه په اصلي مرض باندې غور اوکړئ! هغه کومه یوه بیماري وه، د کومې په وجه چې قارون د مال په آفت کښې اخته شو او د الله پاک د قهر او غضب ښکار شو، الله پاک په قرآنِ کریم کښې د هغه د دې باطِني بیمارۍ ذِکر اوکړو، ارشاد اوشو:

قَالَ اِنَّمَاۤ اُوْتِیْتُهٗ عَلٰى عِلْمٍ عِنْدِیْ ؕ

(پاره:20 ، سورۀ قصص :78)

[مفهوم] ترجَمۀ کنزُ العرفان:(قارون) اووئیل: دا خو ما ته د یو علم په وجه باندې میلاؤ شو کوم چې زما سره دے.

د قارون په ذهن کښې دا وو چې دا څومره مال او دولت او خزانه ده، دا هر څه زما ذاتي ملکیت دے، زما د محنت نتیجه ده، ما ته یو عِلم معلوم دے د هغه عِلم په وجه ما ته دا هر څه میلاؤ شوي دي. بس د هغه دغه غلط سوچ، د هغه دې ګمان او دې باطني بیمارۍ هغه ډوب کړو او قارون د الله پاک په غضب کښې اخته شو او د بدې خاتمے ښکار شو.

## د بندګۍ يو اهم ادب

اے عاشقانِ رَسُول! دا خبره مونږ له هيڅ کله هيرول نه ده پکار چې مونږه د الله پاک بندګان يو، د لَا اِلٰهَ اِلَّا الله وئيلو سره مونږه اقرار کوو چې مونږه د الله پاک بندګان يو، هم هغه زمونږه رَبّ دے، هم هغه زمونږه خالِق دے، هم هغه زمونږه مالِک دے، هم هغه مونږه پالي، هم هغه مونږ له رزق راکوي، ځکه هم هغه واحِد رښتينے خدائے دے کوم چې د عبادت لائق دے. ځکه خپله بندګي هميشه ياد ساتل پکار دي.

علّامه شعراني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د بندګۍ په آدابو کښې يو اَدب دے بنده ته چې څه عطا کړے شوي دي، په هغې کښې نه د څه څيز په باره کښې د خپل ملکيت دعوٰی کوي، نه په خپل زړه کښې دا خيال راولي چې زه د دې څيز مالک يم.

علّامه ابو الحسن شاذلي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د څه څيز په باره کښې د ملکيت د دعوے کولو او په زړه کښې د دې ملکيت د خيال راوستلو نه ځان ساتئ! ځکه چې کوم بنده د ملکيت دعوٰی کوي، هغه (کامِل) مؤمِن نه دے، الله پاک فرمائي:

اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَ اَمْوَالَهُمْ

(پاره:11 ، سورۂ توبه:111)

[مفهوم] ترجَمۂ کنزُ الایمان: بے شکه الله د مسلمانانو نه د هغوئي مالونه او ځانونه اخستي دي.

معلومه شوه: چې د هر مؤمِن مال او د هغه ځان د الله پاک ملکيت دے، ځکه يو مُؤمِن په خپل يو څيز کښې د ملکيت دعوٰی نشي کولے.[1]

---

[1]... اَلْاَنْوَارُ الْقُدْسِيّة فی بيان آداب العبوديہ، صفحہ:31 خلاصةً۔

# د صدقې فضائل

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! یو مثال دے: فرض کړئ زمونږ څوک خپل، څوک دوست وغیره خپل مال د امانت په طور زمونږ سره کیږدي او ووائي چې که ضرورت وي نو دا استعمالوه هم، بیا هغه مونږ ته ووائي: چې دا زه په فلانکي کَس باندې خرڅووم، زما د مال نه دومره رقم فلانکي کَس له ورکړه! آیا مونږ به انکار کوؤ؟ آیا زمونږ انکار به صحیح وي؟ نهٔ...!! هیڅ کله به صحیح نهٔ وي.

بیا لږ غور اوکړئ: زمونږ سره چې کوم مال دے، دا زمونږه نه دے، د الله پاک دے، هم هغه د دې خالق دے، هم هغه ئې مالک دے، هغه مونږ ته عطا کړو، مونږه د دې مال په معامله کښې د الله پاک د احکامو پابند یو، هغه مونږ ته حکم اوکړي: په دې کښې دوه نیم فیصده (2.5٪) زکوٰة ورکړه! مونږ به زکوٰة ورکړو، د دې حکم وي چې سرسایه ادا کړئ! مونږ به سر سایه ادا کړو. هغه چې کوم حکم هم اوکړي، مونږه د هغې پابند یو خو د الله پاک کرم ته اوګورئ! **مال د الله پاک دے، پیدا کړي هغه یو، مونږ ته هغه عطا کړل، بیا مونږه د هغه په حکم باندې، د هغه مال، د هغه په لار کښې خرچ کړو نو الله پاک هغه ته قرض فرمائي او په دې باندې د ډیر غټ اَجر وعده هم فرمائي.** آؤ جي! په قرآنِ کریم کښې دي:

مَنْ ذَا الَّذِیْ یُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا فَیُضٰعِفَهٗ لَهٗۤ اَضْعَافًا كَثِیْرَةً ؕ وَ اللّٰهُ یَقْبِضُ وَ یَبْصُۜطُ ۪ وَ اِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ (۲۴۵)

(پاره:2 ، سورۃ بقره:245)

[مفهوم] ترجَمۂ کنزُ الایمان: شته څوک کوم چې الله له قرضِ حسنه ورکړي نو الله به د هغه د پاره څو چنده زیات کړي او الله تنګي او فراختیا راولي او تاسو به د هغه په لور بیرته ګرځئ.

په **تفسیرِ صراطُ الجنان** کښې د دې آیت لاندې دي: د الله پاک په لاره کښې د اخلاص سره لګول د قرض سره تعبیر اوفرمائیل، دا د الله پاک د کمال درجے لطف او کرم دے ځکه چې بنده هغه جوړ کړے دے او د بنده مال د هغه عطا کړے شوے دے، حقیقي مالک هغه ولې بنده د هغه په عطا سره مجازي مالک ساتي خو د قرض سره په تعبیر فرمائیلو کښې دا خبره په زړه کښې کښینول مقصد دے چې لکه څنګه چې قرض ورکولو والا تسلي ساتي چې د هغه مال نه ضائع کیږي او هغه د دې د واپسئ حقدار هم دے، داسې د الله پاک په لاره کښې لګولو والا ته تسلي ساتل پکار ده چې هغه به د دې لګولو بدله یقیناً بیاموي او هغه هم معمولي نه بلکه څو چنده زیاته بیاموي. 700 چنده هم کیدے شي او د دې نه په لکونو چنده زیاته هم کیدے شي. **د صدقے سره په مال کښې هم برکت راځي او په آخرت کښې هم اجر و ثواب میلاویږي.** که چرې د دنیا د لکونو مالدارانو سروے اوکړے شي نو تاسو ته به معلومه شي چې په هغوئي کښې زیاته صدقه او خیرات ډیر کوي او په لکونو غریبانانو ته اوګورئ په هغوئي کښې به ګڼ شمیر د صدقے او خیرات نه ځان لرې ساتي.[1]

## ځان په هلاکت کښې مه غورځوئ!

**اَللّٰهُ اکبر!** **خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د صدقے په فضائلو باندې غور اوکړئ! کوم بنده چې د الله پاک په عطا کړے شوي مال کښې هم د الله پاک په لاره کښې خرچ کوي، الله پاک هغه ته قرض فرمائي او په هغې باندې د څو چنده اَجر وعده هم فرمائي. بیا څه وجه ده چې مونږه د هغه راکړے شوے مال د هغه په لاره کښې نه خرچ کوو. مونږ له صدقه او

[1]...تفسیر صراط الجنان ،پاره:2 ،سورۂ بقره ،زیرِ آیت:245 ،جلد:1 ،صفحه:367بتغیر قلیل۔

خیرات پکار دے. په دې کښې هم زمونږه خیر دے. الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي:

وَ اَنْفِقُوْا فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَ لَا تُلْقُوْا بِاَیْدِیْكُمْ اِلَى التَّهْلُكَةِ ۛۚ
(پاره:2 ، سورۂ بقره:195)

[مفهوم] ترجَمۂ کنزُ الایمان: او د الله په لاره کښې اولګوئ او په خپلو لاسونو په هلاکت کښې مه غورځيږئ.

یعنې د الله پاک په لاره کښې نه خرچ کول یا کم خرچ کولو سره خپل ځان په هلاکت کښې مه غورځوئ.په روایاتو کښې دي: انصار صحابۂ کرامو علیهمُ الرِّضوَان به صدقه او خیرات کولو، یو کال هغوئي ته تنګدستي راغله نو هغوئي د الله پاک په لاره کښې صدقه او خیرات بند کړو، په دې باندې دا آیت مبارکه نازل شو[1] او اوفرمائیلے شول چې د الله پاک په لاره کښې د مال نه خرچ کولو سره خپل ځان په هلاکت کښې مه غورځوئ!

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! معلومه شوه: چې د الله پاک په لاره کښې نه خرچ کول د هلاکت سبب دے ✿ ظاهره ده چې مونږه صدقه او خیرات نه کوؤ نو په معاشره کښې به غربت زیاتیږي ✿ د غریبانانو د حال د پوښتنې به هیڅ خوک نه پاتې کیږي او لوږه به زیاتیږي ✿ غریبانان به د غریبئ ښکار کیدو سره پخپله د خود کشئ لار خپلوي او داسې زمونږ په معاشره کښې هم کیږي ✿ که چرې مالداره خلق صدقه او خیرات نه کوي نو د جُماتونو نظام به څنګه چلیږي؟ ✿ مدرسے به څنګه چلیږي؟ ✿ ماشومان به د قرآن و سُنّت تعلیم څنګه حاصلوي؟ ✿ زمونږه نسلونو ته به دِین څنګه رسي؟ هم داسې ډیر صورتونه دي چې که چرې مونږه خیراتونه او صدقے پریږدو نو پخپله د هلاکت ښکار کیدے شو.

---

[1]... تفسیر صراط الجنان ، پاره:2 ، سورۂ بقره، زیرِ آیت:195 ، جلد:1 ، صفحه:309 -310 خلاصتًہ۔

الله پاک دې مونږ له د زړه د اخلاصه د صدقو او خیراتونو کولو، د الله پاک په راکړے شوي مال کښې د هغه په لاره کښې د خرچ کولو سعادت راکړي. راځئ! د الله پاک په لاره کښې د خرچ کولو فضائل اورو:

## د صدقے کولو سره د فرښتو دعاګانے نصیب کیږي

د صحابئ رسول حضرت ابو هریره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے، فرمائي: د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: داسې هیڅ یوه ورځ نشته په کومې کښې چې بنده سبا کړي او دوه فرښتې راکوزې نه شي، په هغې کښې خو یوه وائي: الٰهي! سخي له ډیره ښه بدله ورکړې او بله وائي: الٰهي! کنجوس له بربادي ورکړې.[1]

د دې حدیث په شرح کښې مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: یعنې د سخي د پاره دُعا او د کنجوس د پاره ښیرې هره ورځ د فرښتو د خُلے نه ووځي کومې چې یقیناً قبولې دي.[2]

## انسان به د خپلې صدقے په سورې کښې وي

د حضرت عُقبَه بن عامر نه روایت دے چې د مدینې سردار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: هر کَس به (د قیامت په ورځ) د خپلې صدقے په سورې کښې وي تر دې چې د خلقو په مینځ کښې به فیصله اوکړے شي.[3]

## پیاز ئې صدقه کړې وو

د حضرت یزید بن ابو حبیب نه روایت دے چې حضرت مَرثَد بن ابو عبد الله رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ

[1]... بخاری، کتاب الزکاۃ ، باب قول اللہ تعالی: فاما من اعطی...الخ ، صفحہ:402 ، حدیث:1442۔

[2]... مرٰاۃ المناجیح، جلد:3 ، صفحہ:69۔

[3]... مسند امام احمد، جلد:7، صفحہ:189، حدیث:17796۔

په مِصر والؤ کښې هغه ورومبے ګس دے کوم چې به په ماښام کښې جُمات ته تللو. راوي فرمائي چې ما به کله هم هغوئي جُمات ته په تللو ليدلو نو د هغوئي په لاسونو کښې به د صدقے د پاره پيسې يا ډوډۍ وغيره څه نا څه خامخا وو. يو ځل ما هغوئي اوليدلو: په لاس کښې ئې پياز وړل. ما عرض اوکړو: اے ابو الخير! دا پياز به ستاسو جامې بدبوداره کړي. اوئې فرمائيل: اے د ابو حبيب څويه! زما سره د صدقے کولو د پاره نور هيڅ نه وو او ما ته يو صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ حديث بيان کړو چې د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د مؤمِن ورکړے شوې صدقه به د قيامت په ورځ په هغه باندې سورے وي. (بس ما په دې حديثِ پاک باندې د عمل کولو د پاره هم پياز راوړل).[1]

میرے کاسے میں تو اک سوت کی اَنّٹی بھی نہ تھی
نام لکھوا دیا یوسف کے خریداروں میں

## سحر وختي صدقه ورکوئ!

د حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے فرمائي چې تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: سحر وختي صدقه ورکوئ چې بلا د صدقے نه مخکښې قدم نه را اخلي.[2]

يو ګس د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په بارګاه کښې حاضر شو او اوئې وئيل چې زما څوي د سمندر په سفر باندې تلے دے تاسو د الله پاک نه د هغه د پاره دُعا اوکړئ نو هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اوفرمائيل: د هغه د طرف نه صدقه ورکړه. هغه وخت سمندر په موجونو

---

[1]... صحيح ابنِ خزيمه، کتاب الزکاة، باب اظلال الصدقة صاحبها ...الخ، صفحه:560، حديث:2432۔

[2]... سننِ کبریٰ للبيهقی، کتاب الزکاة، باب فضل من اصبح صائما...الخ، ج:4، ص:506، حديث:7831۔

وو [یعني چپے به پکښې ډیرې زیاتې راتلے] او جاز ډوبیدو ته نزدې وو، کله چې هغه کَس د هغه د طرف نه صدقه ورکړه نو یو ویونکے په دې وئیلو واوریدے شو: اے سواره خلقو! ستاسو د پاره سلامتیا ده بے شکه الله پاک فدیه قبوله کړله.[1]

## د صدقے ورکولو فضیلتونه او ثوابونه

❁ صدقه او خیرات کول زمونږه د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عظیم سُنّت دے، د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دِر جُود و سخاوت نه به یو غوښتلو والا هم خالي لاسونه نه تللو[2] ❁ صدقه ګناهونه داسې ختموي لکه څنګه چې اوبه اور مړ کوي[3] ❁ صدقه د دوزخ د اور نه بچ کوي، په حدیثِ پاک کښې دي څوک چې د الله پاک د رضا په خاطِر صدقه اوکړي نو دا صدقه د هغه او د اور ترمینځه پرده جوړیږي[4] ❁ صدقه د الله پاک غضب ختموي او بد مرګ دفع (یعني لرې) کوي[5] ❁ د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارَك دے: په صدقه ورکولو کښې تادي کوئ چې بلا د صدقے نه نۀ را اوړي[6] ❁ صدقه کوونکے به د قیامت په ورځ د خپلې صدقے په سورې کښې وي[7] ❁ صدقه د بدئ 70 دروازے بندوي[8] ❁ صدقه د قبر د ګرمئ نه بچ کوي[9] ❁ د مسلمان

---

1 ... نزهة المجالس، باب فضل الصدقه، صفحه:14۔

2 ... فیضانِ سخی سرور،صفحه:6۔

3 ... ابنِ ماجه ، کتاب الفتن ، باب کف اللسان فی الفتنه، صفحه:649 ، حدیث:3973 ۔

4 ... معجمِ کبیر، جلد:10 ، صفحه:409 ، حدیث:20584۔

5 ... ترمذی، کتاب الزکاة، باب ما جاء فی فضل الصدقه، صفحه:189، حدیث:664 ۔

6 ... مشکاة المصابیح، کتاب الزکاة، باب الانفاق وکراهیه ...الخ،جز:1 ، ج:1، ص:359 ، حدیث:1887

7 ... سننِ کبرى للبیهقی، کتاب الزکاة ، باب التحریض علی...الخ ،جلد:4 ، صفحه:379 ، حدیث:7751۔

8 ... معجمِ کبیر، جلد:3 ، صفحه:148 ، حدیث:4276۔

9 ... شُعَبُ الْاِیمان، جلد:3 ، صفحه:212 ، حدیث:3347۔

صدقه د هغه عمر زیاتوي[1] ❁ الله پاک د صدقې په برکت تکبر او فخر لرې کوي[2] ❁ صدقه 70 قِسمه بلاګانې اودروي په کومو کښې چې د ټولو نه کمه بلا بدن ورانیدل او سپین داغونه دي.[3]

## د صدقې 4 آداب

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! چا له چې الله پاک توفیق ورکړي، هغوئي صدقې او خیراتونه کوي، زکوٰة ورکوونکي زکوٰة ورکوي او ډیر زیات د الله پاک نیکان بندګان نفلي صدقې هم ورکوي، الله پاک دې د هغه ټولو کوششونه په خپله بارګاه کښې قبول کړي.

د صدقې کولو سره سره د دې د آدابو خیال ساتل هم ضروري دي. په سیپاره 3، سورۀ بقره، آیت: 261 نه 274 یعني په 13 آیتونو کښې د صدقې فضیلتونه او آداب په تفصیل سره بیان کړے شوي دي، کوشش اوکړئ دغه مبارک آیتونه اولولئ! د تفسیرِ صراط الجنان، تفسیر نُور العرفان او خزائن العرفان په مدد سره په دې آیتونو باندې د پوهیدو کوشش اوکړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ډیر زیات عِلمِ دین به هم د زده کولو د پاره میلاویږي او که چرې الله پاک اوغوښتل نو د قرآن په نُور سره به زړه هم روښانه شي. راځئ! په دې آیتونو کښې د بیان کړے شوؤ د صدقې آداب اورو:

### (1-2): د تکلیف ورکولو او احسان ضباطلو نه بچ اوسئ!

**د صدقې وړومبي 2 آداب** دا دي چې انسان صدقه ورکړي نو چې چا له ئې صدقه ورکړې

---

[1]... معجمِ کبیر، جلد:6 ، صفحه:440، حدیث:13508۔
[2]...معجمِ کبیر، جلد:6 ،صفحه:440 ، حدیث:13508۔
[3]... تاریخِ بغداد، جلد:8 ، صفحه:204 ۔

ده، (1) نه خو هغه له تکليف ورکړي، (2) نه پرې احسان اوضباطي. الله پاک فرمائي:

اَلَّذِیْنَ یُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ثُمَّ لَا یُتْبِعُوْنَ مَاۤ اَنْفَقُوْا مَنًّا وَّ لَاۤ اَذًىۙ لَّهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْۚ وَ لَا خَوْفٌ عَلَیْهِمْ وَ لَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ (۲۶۲) قَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ وَّ مَغْفِرَةٌ خَیْرٌ مِّنْ صَدَقَةٍ یَّتْبَعُهَاۤ اَذًىؕ وَ اللّٰهُ غَنِیٌّ حَلِیْمٌ (۲۶۳)

(پاره:3 ، سورۀ بقره:262 -263)

[مفهوم] ترجَمۂ کنزُ العرفان: هغه خلق کوم چې خپل مال د الله په لار کښې خرچ کوي بيا د خپلو خرچ کولو نه پس نه احسان ضباطي او نه تکليف ورکوي د هغوئي انعام د هغوئي د رَبّ سره دے او په هغوئي به نه څه ويره وي او نه به هغوئي غمژن وي، ښه خبره کول او معاف کول د هغه خيرات نه غوره دي د کومې نه پس چې تکليف ورکول وي او الله بے پرواه، حلم والا دے.

معلومه شوه چې کوم خلق د الله پاک د رضا موندلو او د ثواب ګټلو د پاره صدقے او خيراتونه کوي، د الله پاک په لاره کښې خپل مالونه ورکوي، بيا چې ئې چا له صدقه ورکړې ده، نه هغه له تکليف ورکړي، نه پرې احسان اوضباطي نو د هغوئي د پاره د الله پاک سره ډير لوئے اَجر و ثواب دے، هغه د قيامت په سخته ورځ به چې کله نمر اور اُورَوي، د تانبے زمکه به د اور په شان سره شوي وي، خلق به هم په خپلو خولو کښې ډوب وي، د نفسي نفسي عالَم به وي، په هغه ورځ به د الله پاک په لاره کښې د خرچ کوونکو او د احسان ضباطلو نه د بچ کيدونکو سره به نه څه غم وي، نه ويره وي.

## د احسان ضباطلو او تکليف ورکولو مختلف شکلونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په دې کښې دې هغه خلق غور اوکړي کوم چې صدقے او خيراتونه خو ورکوي، د الله پاک په لاره کښې مال خو خرچ کوي خو بيا غريبانان تنګوي، هغوئي ته ستغې سپورې وائي چې ✿ تهٔ خو غريب وے ✿ مفلس او مجبور ✿

کمينه وے ❁ ما هم تا له مال درکړو ❁ تهٔ زما په ټکرو غټيږې ❁ داسې چې د کومو غريبانانو تصويرونه يا ويډيوګانے په سوشل ميډيا باندې ورکوي ❁ پوسټرې جوړوي يا ئې په اخبارونو کښې چاپ کوي، هغوئي له غور کول پکار دي، د دې څه لږ وخت د واه واه په خاطِر د څومره غټ ثواب نه د محرومۍ ذريعه جوړوي. الله پاک دې مونږ له خالص د الله پاک د رضا په خاطِر د ثواب اُمّيدوار کيدلو سره د الله پاک په لاره کښې د خرچ کولو او د الله پاک د پټ تدبير نه د ويريدلو توفيق راکړې.

## احسان ضباطل ګناه ده

ياد ساتئ! (1) احسان ضباطل غټه ګناه، حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے[1] (2) د صدقے ورکولو [نه پس] احسان ضباطلو سره د صدقے ثواب ضائع کيږي[2] (3): د احسان ضباطلو سره عام طور د مسلمان (يعني چا له ئې چې صدقه وغيره ورکړې، د هغه) زړه هم آزاريږي، څکه د احسان ضباطلو د ګناه نه د توبه کولو د پاره د متعلقه ګس نه معافي غوښتل هم ضروري دي، ګني بيا به توبه پوره نه وي.

## (3): د رياکارئ نه بچ اوسئ!

**د صدقے دريم اَدَب دا دے چې** په صدقه او خيرات کښې نِيَّت ښه اوساتلے شي، صرف او صرف د الله پاک د رضا حاصلولو د پاره دې صدقه اوکړے شي، د رياکارئ، خلقو ته د ښودلو او د خپلې واه واه خواهش دې اونه ساتلے شي. کوم خلق چې خلقو ته د ښودلو

[1]... تبيين المحارم، الباب الثالث و العشرون ...الخ، صفحه:134 ملتقطًا۔

[2]... فيض القدير، جلد:2 ، صفحه:317 ، تحت الحديث:1769۔

یا د خپلې واه واه کولو د پاره د الله پاک په لاره کښې خرچ کوي، الله پاک د هغوئي د پاره عبرتناک مثال ذِکر کړے دے، ارشاد دے:

فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَیْهِ تُرَابٌ فَاَصَابَهٗ وَابِلٌ فَتَرَكَهٗ صَلْدًاؕ لَا یَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَیْءٍ مِّمَّا كَسَبُوْاؕ
(پاره:3، سورۂ بقره:264)

[مفهوم] ترجَمۂ کنزُ العرفان: د هغه مثال داسې دے لکه یو ښویه کاڼړے وي، په هغې خاوره وي نو په هغې باندې زوردار باران اوشو او هغه ئې صفا کاڼړے پریښودو، داسې خلق به د خپلو کړو اعمالو نه په هیڅ څیز باندې هم قُدرت نه مومي.

لکه څنګه چې منافق ګس خلقو ته د ښودلو د پاره او د خپلې واه واه کولو د پاره مال خرچ کوي خو د هغه ثواب بربادیږي، دغه شان په فقیر باندې د احسان ضباطونکي او هغه له تکلیف ورکوونکي ثواب هم ضائع کیږي. د دې په مثال باندې داسې ځان پوهه کړئ چې یوه صفا ګټه وي په کومه چې خاوره پرته وي، که چرې په هغې باندې تیز باران اوشي نو هغه ګټه بالکل صفا کیږي او په هغې باندې د خاورې نوم او نشان پاتې نه شي. داسې مثال د منافق د عمل دے چې کتونکو ته معلومه وي چې عمل دے او د قیامت په ورځ به هغه ټول عمل باطِل شي.

الله! الله! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! غور اوکړئ! انسان د خپل محنت ګټه د الله پاک په لار کښې خرچ کړي، بیا د ریاکارئ په وجه د ثواب حقدار هم پاتې نه شي بلکه اُلټا د ریاکارئ په وجه د ګناه حقدار جوړ شي نو دا څومره غټ نقصان دے.

## د ټولو نه زیات په نقصان کښې څوک...؟

الله پاك ارشاد فرمائي:

قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْاَخْسَرِیْنَ اَعْمَالًا ﴿۱۰۳﴾ اَلَّذِیْنَ ضَلَّ سَعْیُهُمْ فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا وَ هُمْ یَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ یُحْسِنُوْنَ صُنْعًا ﴿۱۰۴﴾

(پاره:16، سورۂ کہف:103-104.)

[مفهوم] ترجَمۂ کنزُ العرفان: تۀ اوفرمایا: آیا مونږه تاسو ته اووایو چې د ټولو نه زیات خراب عمل والا خوک دي؟ هغه خلق د کومو چې ټول کوششونه د دُنیا په ژوند کښې برباد شول حالانکه هغوئي دا ګمان کوي چې هغوئي ښه کار کوي.

په دې آیتونو کښې اووئیل شو چې هغه ګس کوم چې په دُنیا کښې محنت کولو، کوشش کولو، هغه په ظاهره باندې خپل وخت ضائع نه کړو او هغه دا ګڼله چې زه ډیر ښه کار کووم، زه ډیرې نیکئ ګټم خو چې کله د قیامت په ورځ د الله پاک په بارګاه کښې حاضر شو نو معلومه شوه چې هغه ټول محنت، ټول کوشش خو ضائع شو، دا هغه ګس دے کوم چې به د قیامت په ورځ د ټولو نه په زیاته خساره او نقصان کښې وي.

علّامه قُرطَبي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آیت لاندې فرمائي: د دې بنده عملونه به ضائع شي یا دې د پاره چې دا بد عقیده وو، کافر وو، بد مذهبه وو، **یا بیا دې د پاره به ئې عملونه ضائع شي چې ده به ریاکاري او ځان ښودنه کوله.**[1]

## ریاکار د الله پاک سره بد دیانتئ کوو نکے دے

یو ځل یو ګس په بارګاهِ رسالت کښې عرض اوکړو: یَا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د قیامت په ورځ به کوم یو څیز نجات ورکوي؟ خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: د الله پاک سره بد دیانتي نه کول. هغه ګس بیا عرض اوکړو: بنده د الله پاک سره بددیانتي څنګه کولے شي؟ اوئې فرمائیل: دغه شان چې تۀ د الله پاک او د هغه د

[1]... تفسیرِ قرطبی، پاره:16، سورۂ کہف، زیرآیت:103، جز:10، جلد:5، صفحہ:302۔

رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانبردارئ والا کار د غيرُ الله راضي کولو د پاره اوکړي. بس د رياکارئ نه بچ اوسه ځکه چې رياکاري شرکِ(اصغر) دے او د قيامت په ورځ به رياکار په 4 نومونو سره رابللے شي: (1):اے بدکاره! (2):اے دهوکه بازه! (3):اے کافِره! (4):اے نقصان اوچته کوونکيه! ستا عمل خراب شو، ستا اَجر برباد شو، نن ستا د پاره هيڅ حصه نشته، اے د دهوکے ورکولو کوشش کوونکيه! خپل ثواب د هغه چا سره اولټوه د چا د پاره چې به دې عمل کولو.[1]

ہم رياکاری سے بچتے ہی رہيں یہ کرم يا مصطفٰے فرمايئے!
نفس و شيطاں کی شرارت دور ہو یہ کرم يا مصطفٰے فرمايئے!

## د پټې صدقے فضيلتونه

اے عاشقانِ رَسُول! زکوٰة، سرسايه، صدقه او خيرات وغيره په اعلانيه طور (يعني د خلقو په مخکښې) ورکول هم اګر چې جائز دي، البته خير په دې کښې دے چې بنده پټه صدقه او خيرات کوي، دغه شان د رياکارئ د آفت نه بچ کيدل آسان دي. الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنۡ تُبۡدُوا الصَّدَقٰتِ فَنِعِمَّا هِیَ ۚ وَ اِنۡ تُخۡفُوۡهَا وَ تُؤۡتُوۡهَا الۡفُقَرَآءَ فَهُوَ خَيۡرٌ لَّکُمۡ ؕ (پاره:3، سورة بقره:271) | [مفهوم] ترجَمۂ کنزُ الايمان: که چرې خيرات ښکاره ورکړئ نو هغه څومره ښه خبره ده او که چرې په پټه ئې فقيرانو له ورکړئ نو دا ستاسو د پاره تېولو نه غوره دي. |

معلومه شوه: چې په پټه صدقه او خيرات کول زمونږ په حق کښې غوره دي.

[1]... اَلْاِتْحَاف ُالْخيرة ، کتاب العلم، باب التحذير من الرياء...الخ،جلد:1، صفحه:260 ، حديث:400۔

## د تېولو نه طاقتور څوک...؟

د حضرت اَنَس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے چې د الله پاک خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: کله چې الله پاک زمکه پيدا کړه نو هغه په خوزيدو شوه نو الله پاک غرونه په دې کښې دننه کړل په کومې چې زمکه اودريدله، فرښتې د غرونو په مضبوطئ باندې حيرانه شولې او عرض ئې اوکړو: الٰهی! آيا تا د غرونو نه هم زيات سخت او شديد څه مخلوق پيدا کړے دے؟ الله پاک اوفرمائيل: آؤ! هغه اوسپنه ده. هغوئي عرض اوکړو: الٰهی! آيا تا د اوسپنې نه هم زيات مضبوط څه مخلوق پيدا کړے دے؟ اوئې فرمائيل: آؤ! هغه اور دے. فرښتو بيا عرض اوکړو: مولا! آيا د اور نه هم زيات طاقتور مو څه مخلوق پيدا کړے دے؟ ارشاد اوشو: هغه اوبه دي. فرښتې عرض گزاره شولې: اے رَبَّ! آيا څه مخلوق مو د اوبو نه هم زيات طاقتور پيدا کړے دے؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: هغه هوا ده. هغوئي بيا عرض اوکړو: اے پروردگاره! آيا د هوا نه هم زيات سخت مو څه مخلوق پيدا کړے دے؟ الله پاک اوفرمائيل: آؤ هغه انسان دے چې کله په ښي لاس صدقه اوکړي نو هغه د گس لاس نه پته کړي.[1]

مشهور مُفَسِّرِ قرآن، حکيم الاُمّت حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: داسې (پټه) صدقه کوونکے سخي هغه سرکشه نفس تابعدار جوړوي کوم چې د غر نه زيات سخت، د سمندر او د هوا نه زيات طوفاني دے، نفس وړومبے خو بخل ور زده کوي کله چې سخاوت اوکړے شي نو خلقو ته ځان ښودل خوښوي، دا پټ سخاوت کوونکے د نفس دواړه خواهشونه چقوي او د نفس اور مړ کوي ځکه ډير بهادر دے،

[1]... ترمذی ،کتاب تفسير القرآن، صفحہ:776 ، حديث:3369۔

د پټې صدقے سره د اللّٰه پاک د غضب اور مړ کیږي، د اللّٰه پاک رضا حاصلیږي، دا نعمتونه د غرونو، اوسپنې، اور، اوبو، هوا نه نشي حاصلیدے، ځکه دا صدقه د ټولو نه غوره ده.[1]

اللّٰه پاک دې مونږ له د ریاکارۍ د آفت نه د بچ کیدو توفیق راکړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

میرا ہر عمل بس تیرے واسطے ہو | کر اخلاص ایسا عطا یا الٰہی!

## (4) بهترین څیز د اللّٰه پاک په لار کښې خرچ کړئ!

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د زکوٰة او نورو صدقو او خیراتونو وغیره په آدابو کښې څلورم ادب دا دے چې انسان په مال کښې بهترین څیز د اللّٰه پاک په لار کښې خرچ کړي. په قرآنِ کریم کښې ارشاد دے:

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْۤا اَنْفِقُوْا مِنْ طَیِّبٰتِ مَا كَسَبْتُمْ وَ مِمَّاۤ اَخْرَجْنَا لَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ ۪ وَ لَا تَیَمَّمُوا الْخَبِیْثَ مِنْهُ تُنْفِقُوْنَ وَ لَسْتُمْ بِاٰخِذِیْهِ اِلَّاۤ اَنْ تُغْمِضُوْا فِیْهِ ؕ وَ اعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ غَنِیٌّ حَمِیْدٌ ﴿۲۶۷﴾

(پاره:3 ، سورۂ بقره:267)

[مفهوم] ترجَمۂ کنزُ العرفان: اے ایمان والؤ! په خپلو پاکو ګټو کښې او په هغې کښې کوم چې مونږه ستاسو د پاره د زمکې نه راټوکولي دي (د اللّٰه په لار کښې) څه خرچ کړئ او د خرچ کولو سره خاص د خراب مال (ورکولو) اراده مه کوئ حالانکه (که چرې هغه تاسو له درکړے شي نو) تاسو به هغه د سترګو پټولو نه بغیر قبول نه کړئ او پوهه شئ چې اللّٰه بے پرواه، د حمد لائق دے.

[1]... مرآۃ المناجیح ، جلد:3 ، صفحه:114۔

په **تفسیر صراطُ الجنان** کښې دي: بعضې خلقو به په صدقه کښې خراب مال ورکولو د هغوئي په باره کښې دا آیت نازل شو او اوفرمائیلے شو چې د الله پاک په لاره کښې خپل ګټلے شوے پاک او صفا ستهرا مال ورکوئ! د الله پاک په لار کښې خراب، سخا او ردي شوے مال مه ورکوئ، که چرې تهٔ د الله پاک نه ښه جزا غواړې نو د هغه په لار کښې مال هم د اعلیٰ درجے ورکړه. غور اوکړئ لکه څنګه چې خراب مال تهٔ د الله پاک په لار کښې ورکوے که چرې هغه مال تا له درکړے شي نو آيا تهٔ به ئې قبول کړې! وړومبے خو به ئې قبلوې نه او که چرې قبول ئې هم کړې نو چرې به ئې هم په خوشحالئ نه اخلې بلکه په زړه کښې به ئې د بد ګڼلو سره اخلې نو چې کله د ځان د پاره د ښه اخستلو سوچ کوې نو د الله پاک په لار کښې د خرچ کولو په باره کښې هم ښه سوچ کوه. ډېر خلق پخپله خو ښه استعمالوي خو چې کله د الله پاک په لاره کښې ورکول وي نو نه د استعمال قابل او خراب قِسم څیز ورکوي. د هغوئي د پاره په دې آیت کښې عبرت دے.[1]

## د خرابو په بدله کښې خراب میلاؤ شول

د خپل وخت اَبدال حضرت ابو جعفر بن خطاب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: زما په ور کښې یو غوښتونکي آواز اوکړو ما د خپلې بې بې محترمې نه پوښتنه اوکړه: ستا سره څه شته؟ جواب میلاؤ شو: 4 هګـۍ دي. ما اووئیل: غوښتونکي له ورکړه. هغې حکم اومنلو. غوښتونکي انډے واخستلې او لاړو. لږ ساعت لا تیر شوے نه وو چې ما له یو دوست د هګو نه ډکه ټوکرئ راولیږله. ما په کور کښې پوښتنه اوکړه: په دې کښې ټولې څومره هګـۍ دي؟ هغې اووئیل: 30. ما اووئیل: ما خو فقیر له 4 هګـۍ ورکړې وے، دا 30 په کوم حِساب سره راغلې! اوئې وئیل: 30 هګـۍ روغې دي او 10 ماتې دي. حضرت

---

[1]... تفسیر صراط الجنان، پاره:3 ، سورۂ بقره، زیرِ آیت:167 ، جلد:1 ، صفحه:404۔

شیخ علامه یافعي یمني رَحۡمَةُاللّٰہِعَلَیۡہ فرمائي: بعضې حضرات د دې حکایت په باره کښې دا بیانوي چې غوښتونکي له کومې هګۍ ورکړے شوې وے په هغې کښې 3 روغې وې او یوه ماته وه. الله پاک د هرې یوې په بدله کښې10، 10 عطا کړې. د روغو په بدله کښې روغې او د ماتو په بدله کښې ماتې.[1]

الله پاک دې مونږ له د الله پاک په لاره کښې د بهترینو څیزونو، ښه د زړه د اخلاصه د صدقے د آدابو د خیال ساتلو سره د صدقې او خیرات کولو توفیق راکړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب　　　صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د عطیاتو ترغیب

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ! دعوتِ اسلامي په ټوله دُنیا کښې د نیکۍ دعوت عام کوونکے دیني تحریک دے. د الله پاک په فضل سره ❁ دعوتِ اسلامي د 80 نه زیاتو شعبو کښې دیني خدمتونه ترسره کوي ❁ دعوتِ اسلامي تر اوسه پورې په زرګونو جُماتونه، په سوونو فیضانِ مدینه (مدني مرکزونه) جوړ کړي دي ❁ هلکانو او جینکو **(Boys & Girls)** ماشومانو ته د قرآنِ پاک بیل بیل تعلیم ورکولو د پاره تر اوسه پورې تقریباً 6509 (6 زره 509) مدرسة المَدینه جوړ کړے شوي دي، په کومو کښې چې تقریباً 2,94, 105 (2 لاکهه 94 زره 105) هلکانو او جینکو ماشومانو ته د قرآنِ کریم د حفظ او ناظرې مفت تعلیم ورکولے شي. ❁ د نابینا ماشومانو د پاره هم بیلې مدرسة المَدینه جوړ کړے شوي دي. د شروع نه تر اوسه پورې تقریباً 358 ,10 ,1 (1 لاک،

[1]... روض الریاحین، الحکایة الخامسة و العشرون بعد الثلاثمائة ...الخ، صفحه:262۔

لس زره 358) ماشومانو قرآنِ پاک حفظ کړے دے او د ناظرې پوره کوونکو ماشومانو شمیر 3, 89, 752 (3 لاکهه 89 زره 752) دے. ❁ د عِلم دین خورولو (یعني د عالِم او عالِمې کورس) کولو د پاره بیلې بیلې جامعة المَدینه جوړې کړے شوې دي. تر اوسه پورې تقریباً 1310 جامعة المَدینه (د هلکانو او جینکو د پاره) جوړې کړے شوې دي، په کومو کښې چې تقریباً 1,04,857(1 لاکهه 4 زره 857) جینکو او هلکانو طالب علمانو ته درسِ نظامي (د عالِم او عالِمې کورس، فیضانِ شریعت کورس) مفت ورکولے شي. تراوسه پورې تقریباً 24,257 (24 زره 257) عالِم او عالِمَه کورس، فیضانِ شریعت کورس مکمل کړے دے. په لکونو حافظان، قاریان، امامان، مبلغ، مُعَلِّم، عالِم او د مفتیانو تیارولو سره سره د اُمّت د اِصلاح او کردار سازئ کار روان دے ❁ 14 دارُ الافتاء اهلِسُنَّت جوړ کړے شوي دي، چرته چې مفتیانِ کرام د اُمَّت په شرعي لار ښودنه کښې مصروف دي، په دې کښې د میاشتې د 15 زرو نه د زیاتو سوالونو جوابونه ورکولے شي. او ❁ په المَدینةُ العِلمِیَّه ***(Islamic Research Center)*** کښې په مختلفو موضوعاتو باندې 807 دیني کتابونه چاپ کړے شوي دي او دا سلسله لا روانه ده ❁ د فیضان آن لائن اکیډمي (د جینکو او هلکانو د پاره) 47 شاخونه جوړې کړے شوې دي د کومو په ذریعه چې آن لائن عالِم کورس، قرآنِ پاک (حفظ او ناظره) ښودلے شي، په دې کښې 21,841 (21 زره 841) طالبِ علمان تعلیم حاصلوي، او38,969 (38 زره 969) طالبِ علمانو مختلف کورسونه کړي دي، د 30 نه زیاتو آن لائن کورسونو په ذریعه په 79 ملکونو کښې خلقو ته په خپل کور کښې د عِلمِ دین رڼا رسولے شي ❁ د **مدني چینل** په ذریعه په 6 سیټلائټس باندې په اُردو، انګلش او بنګالئ ژبو کښې د دین ښه خدمت کیږي.

تاسو هم د دين د خِدمت په دې کار کښې خپله حصه شامِله کړئ! خپل عطيات دعوتِ اسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده هر يو جائز، ديني، اصلاحي، فلاحي، روحاني، د خير ښيګړې او د نيکۍ په کارونو کښې خرچ کيدے شي. الله پاک دې مونږ له د دين د خدمت توفيق را کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

دعوتِ اسلامی کی قیّوم،
اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ

سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم
یااللہ مری جھولی بھر دے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مدني قافله

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د اولياۓ کرامو فيضان موندلو، د آخرت فکر، د الله پاک نه د ويرې او د عشقِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه خپل زړه ډکولو، د ګناهونو نه د بچ کيدلو او د نيک لمُونځ ګزاره جوړيدلو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريک د دعوتِ اسلامي ديني ماحول لمَن اونيسئ! په 12 ديني کارونو کښې هم ښه په شوق حِصَّه اخلئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! د دُنيا او آخرت بے شميره خيرونه به مو نصيب شي. په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: **مدني قافله** هم ده. راځئ! د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے اورو:

## د مديني د سفر سعادت ميلاؤ شو!

د شيخوپوره (پنجاب، پاکستان) د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده: اَلْحَمْدُ لِله! ما ته د عُمرې کولو شَرَف حاصل شو، هلته د قُصُور (پنجاب پاکستان) د يو قاري صاحِب سره ملاقات اوشو، هغه اووئيل چې ما د دعوتِ اسلامي د عاشقانِ رسول سره د 3 ورځو په

مدني قافله کښې د سفر کولو سعادت حاصل کړو او هلته مې ښه په ژړا ژړا د مدينې منورې د حاضِرئ د پاره دُعا اوکړه.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! په مدني قافِله کښې غوښتلے شوې دُعا قبوله شوه او زما د مدينې منورې د حاضِرئ اسباب د داسې ځائے نه جوړ شول، د کوم ځائے نه چې زما ګمان هم نه وو.[1]

مانگو آکر دُعا پاؤ گے مُدّعا
گر مدینے کا غم، چاہئے چشمِ نَم

در کرم کے کھلیں قافلے میں چلو!
لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## مدني قاعِده (MadaniQaida) موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د قرآنِ کريم فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن هم جاري کړے دے، د کوم نوم چې مدني قاعِده ***(Madani Qaida)*** دے. په دې ايپلي کيشن کښې مکمله مدني قاعِده او د دې آډيو ***(Audio)*** شامله کړے شوې ده يعني په دې ايپلي کيشن کښې چې تاسو د مدني قاعِدے په کوم حرف يا کوم لفظ باندې کلک ***(Click)*** کوئ، په آډيو ***(Audio)*** کښې به د هغې تَلَفُّظ چليږي، داسې د دې ايپلي کيشن په مدد سره په آسانئ مدني قاعِده لوستل، د دې مشق ***(Practice)*** کول او صحيح مخارِج او ضروري تجويد زده کيدے شي. دا ايپلي کيشن په خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ، پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

[1] ... فيضان سنت، حصه آدابِ طعام، صفحه:462۔ بتغير قليل

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بیان په آخره کښې د سُنّت فضیلت او د ژوند یو څو آدابو بیانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنشَاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د رانجو پورې کولو سُنَّت او آداب

د آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: په ټولو رانجو کښې بهترین رانجه اِثمد دي ځکه چې دا نظر روښانه کوي او بانړه راټوکوي.[2]

اے عاشقانِ رَسُول! د کاڼي رانجه استعمالولو کښې هیڅ باک نشته او ❁ تور رانجه یا ګاجَل د ښائسته کیدو په نیت سره د نارینؤ د پاره پورې کول مکروه دي او که چرې ښائست مقصد نه وي نو بیا مکروه نه دي ❁ رانجه د شپې د اوده کیدو په وخت پورې کول سُنَّت عمل دے ❁ د رانجو پورې کولو د 3 نقل شوؤ طریقو خلاصه ستاسو په خِدمت کښې وړاندې کووم: (1): کله په دواړو سترګو کښې 3، 3 سلایانې (2): کله په ښئ سترګه کښې 3 سلایانې او په ګسه سترګه کښې 2 (3): نو کله په دواړو سترګو کښې 2، 2 او بیا په آخِره کښې یوه سلائي په رنجړومه [د رانجو ګسوره] کښې اووهئ او هغه په نمبر نمبر په دواړو سترګو کښې پورې کړئ د داسې کولو سره به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! په درېو واړو طریقو باندې عمل کیږي.

---

[1]... مشکوٰة،کتابُ:الْاِیمان،بابُ:الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحه:55، حدیث:175۔

[2]... ابن ماجه، کتاب:الطب، باب:الکحل بالاثمد، صفحه:566، حدیث:3497۔

**اے عاشقانِ رَسُول!** د تکریم چې څومره هم کارونه وو هغه ټول به زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښي اړخ نه شروع کول، ځکه وړومبے په ښئ سترګه کښې رانجه پورې کړئ بيا په ګسه کښې.[1]

عجب نہیں کہ لکھا لوح کا نظر آئے! | جو نقشِ پا کا لگاؤں غبار آنکھوں میں

د مختلفو سنتونو زده کولو د پاره د مکتبةُ المَدينه **بهارِ شريعت** جلد 3 نه حِصَّه 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو کتاب **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او اولولئ ئې! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مدني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم ده.

اُلفتِ مصطفےٰ اور خوفِ خُدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو
عِلم حاصِل کرو! جَہل زائِل کرو! | پاؤ گے راحتیں قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راکړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

[1]... 550 سنتیں اور آداب، صفحہ:38۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې ځوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمُعے او زیارت مینځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شریف په پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځۍ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: ځوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښیناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودریدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځۍ چې مونږه هم په شریكه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

---

1… افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون،ص۱۵۱ملخصًا

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه

---

1... القول البديع،الباب الثانى، ص٢٧٧
2... افضل الصلوات على سيد السادات،الصلاة الثانية والخمسون،ص١٤٩
3... القول البديع،الباب الاول،ص١٢٥

ئې هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترہيب،كتاب الذكر و الدعاء،۲/۳۲۹،حديث:۳۰
2... مجمع الزوائد،كتاب الادعية،باب فى كيفية الصلاة...الخ،۱۰/۲۵۴،حديث:۱۷۳۰۵
3... تاريخ ابنِ عساكر،۱۹/۱۵۵،حديث:۴۴۱۵